# د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حــــج او اوقافـــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير اوبيان چې د هیواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي**

---

**۵/ رجب المعظم/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۵/ جدی/۱۴۰۴هـ، ش**

# غصب ، د ټولنيز فساد او الهي غضب ستر لامل دی

**بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ**

إنَّ الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضلّ له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أنّ محمدًا عبده ورسوله، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيماً* وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ عُدْوَاناً وَظُلْماً فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَاراً وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيراً).النساء: (۳۰)

**درنو حاضرينو او محترمو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

زمونږ او ستاسې په ټولنه کې ډول ډول فسادونه موجود دي لکه رشوت ورکول او د رشوت اخيستل، غلا کول ، د خلکو مالونه په مختلفو بهانو خوړل او چور کول ، چې ددغو ټولنيزو فسادونو په جمله کې غصب کول هم شامل دی.

غصب فقهاء کرامو داسې تعريف کړی دی:( په ظلم سره د يو شي را اخيستلو ته غصب ويل کيږي او په اصطلاح کې د بل چا مملوک او محترم مال چې قيمت ولري په ظلم او تيري سره اخيستلو ته غصب ويل کيږي). الاختيار لتعليل المختار (۳/ ۶۷)

د غصب په حقيقت کې ظلم او تجاوز پروت دی ؛ ځکه چې په شريعت کې غصب د بل چا مال په ظلم سره اخيستلو ته غصب ويل کيږي.

غصب د ټولنيز فساد او الهي غضب لامل دی او الله تعالی غصب ځکه حرام گرځولی دی، چې په غصب کې دبل چا مال په ظلم او تجاوز سره خوړل دي.

د انسان مال په ظلم سره الله تعالی داسې حرام کړی دی لکه څرنگه چې يې د هغه وينه حرامه کړې ده. الله تعالی فرمايلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيماً* وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ عُدْوَاناً وَظُلْماً فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَاراً وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيراً).النساء: (۳۰)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی یعنې ای مؤمنانو مه خورئ تاسې مالونه د یو بل په منځونو خپلو کې په ناروا سره مګر خورئ یې که وي دا مالونه چې خورئ یې اموال د تجارت چې صادر وي په خوښۍ سره له تاسو نه او مه وژنئ تاسې سره ځانونه خپل یعنې یو بل یا مه کوئ تاسې هغه کار چې ستاسې د هلاک سبب وي بېشکه چې الله دی پر تاسې باندې ډېر مهربان او هر څوک چې وکړي دغه تېر منهیات په تېرېدلو سره له حقه او ظلم تعدې سره نو ژر به مونږ داخل کړو دې اور د دوزخ ته او دي دا د دوزخ اور ته د دوی ننه ایستل پر الله باندې ډېر آسان

**د استدلال وجه:** په دې مبارک آیت کې الله تعالی د بل چا مال په ظلم او تجاوز سره خوړل لکه غصب، قمار، سود، غلا، ناروا خرید او فروخت او بل څوک په ناحقه وژلو لپاره سخت وعید ذکر کړی دی او فرمایلي یې دي چې څوک داسې کار وکړي،نو مونږ به یې داخل کړو اور د جهنم ته.

ځینې مفسرین وایې چې د (وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ) ضمیر قتل ته راجع دی او ځینې نور مفسرین وایې چې (ذلک ) ضمیر په ظلم او تجاوز سره د خلکو مالونو خوړلو او په ناحقه باندې د بل چا وژلو دواړو ته راجع دی. تفسير الخازن - موافق للمطبوع (١/ ٥١٣)

او غصب کول ځکه حرام دی ، چې په غصب کې په باطله او غیر مشروع طریقې سره د بل چا مال خوړل دي.

الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَلا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقاً مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالأِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ). البقرة: (١٨٨)

ترجمه: او مه خورئ مالونه خپل په خپل منځو کې په ناحقه سره او مه رسوئ دا مال تر حاکمانو پورې لپاره د دې چې وخورئ تاسې په دې رسولو سره یو څه له مالو د خلقو ځنې په ظلم ناحقه سره او تاسې پوهیږئ چې دا ظلم دی

**د استدلال وجه:** په پورتني مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي چې په خپلو منځو کې په باطلو او غیر شرعي لارو سره یو د بل مالونه مه خورئ. او باطلې لارې ټولې هغه لارې دي چې مشروع نه وي لکه غصب، غلا، خیانت، دوکه، فریب ، رشوت، سحر او کهانت، قمار، غبن ، لهو و لعب ، زنا ، شراب خوري او داسې نور.

علامه ماوردي رحمه الله د پورتني آیت په تفسیر کې لیکي: (وَلاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ) فيه تأويلان :

أحدهما : بالغصب والظلم .والثاني : بالقمار والملاهي . النكت والعيون ـ موافق للمطبوع (١/ ٢٤٨)

ژباړه: په (ولا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل ) کې دوه تفسیره دي: یو داچې په غصب او ظلم سره یو د بل مالونه مه خورئ.

دوهم، داچې په قمار او لهو او لعب سره یو د بل مالونه مه خورئ.

د پورتنیو آیتونو په رڼا کې ویلی شو چې غصب هغه ناوړه او حرام کار دی چې الله تعالی ورته باطل ویلی دی او بل داچې لکه څرنګه چې په اسلامي شریعت کې د مسلمان ځان مصئونیت لري دغه شان د هغه مال هم مصئونیت لري.

د مال او منفعت غصب کول ځکه لویه او ټولنیز فساد دی چې په غصب کې یو انسان د بل انسان هغه مال او منافع په ظلم سره اخلي چې هغه د تندي په خولو او د ځان په زحمت سره ګټلی وي او یا ورته د پلرونو او اجدادو څخه په میراث پاتې وي.

ممکن غصب په مختلفو لارو سره ترسره شي یا دتورې په زور، یا د قوم په زور او یا هم د چوکۍ او منصب په زور، کوم چې په اوسني افغانستان اکثره شخصي او دولتي ملکیتونه او مالونه د چوکۍ او منصب په زور سره غصب شوي دي.

غصب په دوه ډوله دی : یو د شخصي مال او ملکیت غصبول او بل د امارتي ملکیتونو او منافعو غصبول، چې دواړه ټولنیز فساد او دالله تعالی د غضب لامل ګرځي.

د اســلامي امارت د راتللو او د فتحې څخه مخکې په تیره اداره کې د هیواد غالبه شــتمني او دولتي ملکیتونه زورمندانو او سیاسي غلو چور کړي او غصب کړي دي چې اوس الحمدلله والمنة اسلامي امارت د مهمو کارونو څخه د غصبي ملکیتونو استرداد خپله مهمه وظیفه ګرځولې ده او په لکونو زره جریبه دولتي او امارتي ځمکې یې غصبي تثبیت او استرداد کړي دي.

غصب له دې امله ټولنیز فساد او د الله تعالی د غضب لامل دی، چې په احادیثو د مال د مصئونیت او د غصب د حرمت په اړه ویروونکې وعیدونه راغلي دي.

کاش چې غاصب شخص د غصب په حقیقت کې ژور او عمیق فکر وکړي ترڅو دا ورته معلوم شي چې:

غصب د ټولنیز فساد بنسټ او د الهي غضب او قهر لامل دی.

غصــب هغه جرم دی چې د الله تعالی څخه د غفلت له امله رامنځ ته کیږي او څوک چې د الله تعالی څخه غافل نه وي ، هغه هیڅکله غصب نه کوي.

غصب د ټولنې د خلکو په زړونو کې د بغض او بدبیني سبب ګرځي او غاصب شخص سره هر سړی نفرت بغض لري.

غصب کول، نورو خلکو ته دا جرأت ورکوي چې په ټولنه کې د غصب ناکاره مرض زیات کړي.

غصب، په ناحقه او ظلم سره د بل چا له مال او منافعو څخه استفاده کول دي.

د غصب له امله مالک د خپل مال څخه د ګټې اخیستلو څخه محرومیږي.

د غصب په وجه په ټولنه کې جرائم زیاتیږي او ټولنه د هلاکت لورې ته ځي.

او نور داسې جرمونه په غصب کې پراته دي چې ټولنه د هلاکت او جاهلیت لورې ته سوقوي.

غصب هغه ناوړه کړنه ده چې د اسلام څخه مخکې په د ظالمانو په منځ کې رائجه وه او د الله مخلصو بندګانو به یې مخه نیوله د الکهف په سورت کې راځي:( أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ فَأَرَدْتُ أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَاءَهُمْ مَلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا). الکهف:(۷۹)

ترجمه: هر چې هغه بېړۍ چې ما سورۍ کړې وه نو وه لپاره د هغو عاجزانو چې کار به یې کولو په بحر دریاب کې نو وغوښته ما چې عیبجنه کړم هغه حال دا چې وو لږ څه لرې له دوی نه یو باچا چې اخیسته به یې هره یوه بېړۍ په زور سره نو ځکه مې سورۍ کړه.

امام ابو الليث سمرقندي رحمه الله ددې آيت په اړه ليکلي دي:(فأول فساد البر كان من قابيل حيث قتل أخاه هابيل وأول فساد البحر كان من جلندا حيث كان يأخذ كل سفينة غصبا). بحر العلوم ـ موافق للمطبوع (٣/ ١٤)

ژباړه: لومړی فساد په وچه کې قابيل کړی وو او لومړنی فساد په بحر کې جلندا کړی ؤ چې هره روغه کشتی به يې غصبوله.

مفسرين ليکي چې ددغو ماشومانو روزي په دغه کشتی پورې تړلی ؤ او حضرت خِضر عليه السلام لومړنی هغه کس ؤ چې د غصب مخنيوی يې وکړ او بل داچې ددې آيت څخه دا هم معلوميږي چې غصب ناکاره او ټولنيز فساد دی او حضرت خضر عليه السلام غوښتل چې موسی عليه السلام ورته متوجه کړي او په دې يې پوهه کړي چې دداسې ظالمانو په مقابل کې ودريږي او د مظلومانو د حقوقو او مالونو حفاظت وکړي چې ظالمان يې غصب او چور نکړي.

بل په دې آيت کې دا درس پروت دی چې غصب د ظالمانو کار دی او ډير قبيحه کار دی او مسلمان او عادل شخص بايد ورڅخه ځان وساتي.

په غصب کې د مسلمان  د خپل مال او ملکيت څخه لاس لنډيږي او په حديث شريف کې راځي چې دانسان مال په نورو خلکو داسې حرام دی لکه د هغه وينه تويول چې حرام دي. نبي عليه السلام په حجة الوداع کې په عرفات کې ټولو انسانانو ته داسې وفرمايل:( إِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالكُمْ وَأَعْرَاضكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَام، كَحُرْمَةِ يَوْمكُمْ هَذَا، فِي بَلَدكُمْ هَذَا، فِي شَهْركُمْ هَذَا). متفق عليه

ژباړه:  بيشکه ستاسې وينې او ستاسې مالونه او ستاسې عزتونه په تاسې حرام دي، په شان د حراموالی ددې ورځې ستاسې، په حراموالي ددې ښار ستاسې، په شان د حراموالي ددې مياشتې ستاسې.

يعنې لکه څرنگه چې دا مياشت او دا ورځ د عرفات او دا مقام د عرفات ستاسو په دين کې حرمت لري دغسې ستاسې د وينې تويول او ستاسې د مالونو غصبول او په ناروا خوړل پر تاسو حرام دي.

همدا راز په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- :«كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ ». صحيح مسلم (٨/ ١٠)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: په هر يو مسلمان حرام د بل مسلمان وينه او د هغه مال او د هغه عزت او آبرو.

د مسلمان مال په غير د هغه د اجازت څخه غصبول، هغه کبيره گناه ده چې حتی په  توبې هم نه بښل کيږي، مگر داچې هغه مال خپل مالک ته وسپاري او که هلاک شوی وي د هغه د مال په شان عوض ورکړي او يا ورته وواېي چې خپل حق ماته وبښه.

په حديث شريف کې راځي:(لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ إِلَّا بِطِيبِ نَفْسٍ مِنْهُ) مسند أحمد (٣٤/ ٢٩٩)

ژباړه: حلال نه دی مال د يو سړي ، مگر په خوښی د زړه د هغه.

ځينې خلک فکر کوي، چې غصب يواځې د ځمکې غصبولو ته غصب وايې، خو داسې نه ده ، بلکې د غصب مشهور او ډېر عملي شکل د ځمکو غصبول دي چې په اړه يې په نصوصو کې سخت وعيد راغلی دی ، غصب نور شکلونه هم لري لکه د منافعو غصبول لکه د باغ د ميوو غصب، د حيواناتو د فائدو غصب ، ددکانونو د کرايانو غصب، د سرکونو او عمومي لارو غصبول، هغه داسې لکه يو څوک چې پياده روونو کې خپل مالونه خرڅوي او عامه لاره يې په لارويانو تنګه کړي وي.

د منقول او غير منقول شيانو غصبول. په دولتي او امارتي ځمکو باندې بدون د نظام د اجازت څخه آبادي کول او د مالونو د څړځايونو غصبول چې بل چا ته په کې د مال د څړولو اجازه نه ورکول کيږي، ځکه چې په مرعی ګانو کې، د اوبو په چينو کې او د ځنګلونو څخه د چراګاه په ډول استفاده کولو کې ټول خلک شريک دي.

ځينې خلک د دولتي او عامه ځمکو غصب داسې جائز ګڼي لکه د پلار څخه پاتې شوی ميراث، حال داچې د امارتي ځمکو او املاکو غصب، د ټولنيز فساد او د الله تعالی د غضب او جهنم ته دداخليدو لامل دی. په يو حديث شريف کې راځي:عَنْ خَوْلَةَ الأَنْصَارِيَّةِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:« إِنَّ رِجَالاً يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللَّهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمْ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».صحيح البخاري ت (٨/ ١٢٥)

ژباړه: د حضرت خوله انصاريه رضي الله عنها څخه روايت دی ، وايې چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې داسې يې وفرمايل: بيشکه بعضې سړي د الله تعالی په مال کې (هغه مال چې د ټولو خلکو حق ورپورې تړلی وي د الله مال بلل کيږي لکه غنميت، دولتي او امارتي ځمکې ) ور ننوځي دالله تعالی په مال کې په ناحقه سره، پس شته ددوی لپاره اور د جهنم په ورځ د قيامت کې.

د فردي او امارتي ملکيتونو او ځمکو د غصبولو په باره کې راځي؛ چې څوک يوه لويشت ځمکه غصب کړي د قيامت په ورځ به ورته اووه طبقې ځمکه په غاړه کې واچول شي.

په حديث شريف کې راځي: عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ اقْتَطَعَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا، طَوَّقَهُ اللهُ إِيَّاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ» صحيح مسلم (٣/ ١٢٣٠)

ژباړه: د سعيد بن زيد بن عمرو بن نُفَيل رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې نبي عليه السلام وفرمايل: چاچې غصب کړه يوه لويشت ځای له ځمکې څخه په ظلم سره ، الله تعالی به دغه ځای دده په غاړه کې واچوي د قيامت په ورځ کې د اوو طبقو ځمکې څخه .

د صحيح مسلم په يو بل روايت کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَأْخُذُ أَحَدٌ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ بِغَيْرِ حَقِّهِ، إِلَّا طَوَّقَهُ اللهُ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» صحيح مسلم (٣/ ١٢٣١)

ژباړه: دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې نبي عليه السلام وفرمايل: نه اخلي يوه لويشت له ځمکې څخه په ناحقه سره ، مګر داچې وابه اچوي الله تعالی دغه ځمکه دده په غاړه کې د قيامت په ورځ.

يعني الله تعالی به د قيامت په ورځ د اوو طبقو څخه جوړ يو طوق(غاړه کی) د ده په غاړه کې واچوي.

امام بغوي رحمه الله وايې چې ددې حديث څخه مراد دادی، چې الله تعالی  به غاصب د قيامت په ورځ په دې مکلف کړي چې کومه اندازه ځمکه ده غصب کړی ده  د هغه ځمکې اووه طبقې به ورته ور په سر کړي او د هغې سره به د مشحر ميدان ته راشي.

لکه چې په يو حديث شريف کې راځي: عَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «مَنْ ظَلَمَ مِنَ الْأَرْضِ شِبْرًا، فَمَا فَوْقَهُ كُلِّفَ أَنْ يَحْمِلَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، حَتَّى يَبْلُغَ الْمَاءَ، ثُمَّ يَحْمِلُهُ إِلَى الْمَحْشَرِ» المعجم الکبير للطبراني (٢٢/ ٢٧١)

ژباړه: د يعلی بن مره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې داسې يې وفرمايل: څوک چې په ظلم سره د ځمکې يوه لويشت يا ددې څخه زيات غصب کړي ، مکلف به کړی شي په دې چې دغه غصب شوی ځمکه حمل کړي آن چې تر اوبو ته په کې ورسيږي او بيا يې راوړي د محشر ميدان ته.  او يا ورڅخه دا معنا مرادده چې الله تعالی به غاصب د قيامت په ورځ د اوو طبقو څخه په جوړه ځمکه کې ور ومندي، لکه چې په يو حديث شريف کې راځي:عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَخَذَ مِنَ الأَرْضِ شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهِ، خُسِفَ بِهِ يَوْمَ القِيَامَةِ إِلَى سبْعِ أَرَضِينَ». شرح السنة للبغوي (٨/ ٢٢٩)

ژباړه: د حضرت سالم بن عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه د خپل پلار عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت کوي ، هغه وايې چې نبي عليه السلام وفرمايل: چاچې رانيوله د ځمکې څخه يو څه اندازه په ناحقه ، الله تعالی به دغه سړی په هغه ځمکه کې ور ومندي د قيامت په ورځ تر اوو طبقو پورې.

غصب، د ټولنيز فساد او د الله تعالی د غضب لامل او په درواغو دغصب دعوی انسان د هلاکت سره مخ کوي. په يو روايت کې راځي:عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ، أَنَّ أَرْوَى خَاصَمَتْهُ فِي بَعْضِ دَارِهِ، فَقَالَ: دَعُوهَا وَإِيَّاهَا، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ:«مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ بِغَيْرِ حَقِّهِ، طُوِّقَهُ فِي سَبْعِ أَرَضِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»، اللهُمَّ، إِنْ كَانَتْ كَاذِبَةً فَأَعْمِ بَصَرَهَا، وَاجْعَلْ قَبْرَهَا فِي دَارِهَا، قَالَ:فَرَأَيْتُهَا عَمْيَاءَ تَلْتَمِسُ الْجُدُرَ تَقُولُ: أَصَابَتْنِي دَعْوَةُ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، فَبَيْنَمَا هِيَ تَمْشِي فِي الدَّارِ مَرَّتْ عَلَى بِئْرٍ فِي الدَّارِ، فَوَقَعَتْ فِيهَا، فَكَانَتْ قَبْرَهَا. صحيح مسلم (٣/ ١٢٣٠)

ژباړه: د سعيد بن زيدبن نفيل رضي الله عنه څخه روايت دی چې اروَی بنت أويس دده دعوی وکړه د کور په ځينې حصه کې (مروان بن عبدالملک والي د مدينې ته. حضرت سعيد بن زيد رضي الله عنه) وويل: ورکړئ ورلره هغه حصه چې دعوی يې لري.بيشکه ما دنبي عليه السلام څخه اوريدلي دي چې داسې يې وفرمايل: چاچې واخيسته يوه لويشت د ځمکې څخه په ناحقه ، هغه به دده په غاړه کې واچول شي تر اوو طبقو ځمکې پورې د قيامت په ورځ. ای الله! که چيرې دا اروی دراوغجنه وي په خپله دعوی کې ، نو ته يې سترګې ړندې کړې او وګرځوې قبر ددې په خپل کور کې. نو بيا ما وليده په داسې حال کې ړنده وه او ديوالونه به يې نيول (په لاره د تللو پروخت) او داسې به يې ويل: ما ته د سعيد بن زيد بددعائي رسيدلې ده ، يو وخت په کور کې روانه وه د کوهي په خوا کې چې د هغې په کور کې ؤ ، نو پريوته په هغه کوهي کې ، نو هغه کوهی د هغې قبر وګرځيد.

غصب، د ټولنيز فساد او د الله تعالی د غضب لامل او په ظلمونو کې تر ټولو لوی ظلم دی. په يو حديث شريف کې راځي:
عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ الظُّلْمِ أَظْلَمُ؟:« قَالَ ذِرَاعٌ مِنْ الْأَرْضِ يَنْتَقِصُهَا الْمَرْءُ الْمُسْلِمُ مِنْ حَقِّ أَخِيهِ فَلَيْسَ حَصَاةٌ مِنْ الْأَرْضِ يَأْخُذُهَا أَحَدٌ إِلَّا طُوِّقَهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى قَعْرِ الْأَرْضِ وَلَا يَعْلَمُ قَعْرَهَا إِلَّا اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ الَّذِي خَلَقَهَا». مسند أحمد (٦/ ٣١٥)

ژباړه: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې ما وويل ای د الله رسوله! په ظلمونو کې کوم ظلم زيات ظلم دی؟ نبي عليه السلام وفرمايل: (تر ټولو زيات ظلم) هغه يو گز د ځمکې دی، چې کموي يې مسلمان سړی د خپل ورور له حق څخه، نه اخلي يوه گيټکۍ د ځمکې څخه، چې يو څوک يې اخلي ؛ مگر داچې وا به اچول شي د هغه په غاړه کې د قيامت په ورځ د ځمکې تر بيخه پورې او نه پوهيږي په بيخ د ځمکې باندې، مگر الله تعالی پوهيږي چې هغه پيدا کړې ده.

غصب، د ټولنيز فساد او د الله تعالی د غضب لامل او لوی ظلم دی، ځکه چې په غصب کې د بل چا څخه د هغه د ژوند مال او منفعت په جبر سره اخيستل دي.دا ډول ظلم د بل هر ډول مالي ظلمونو څخه زيات سخت او دردوونکی دی.

په يو حديث شريف کې راځي چې الله تعالی پر خلکو ظلمونه کول حرام کړي دي.

عَنْ أَبِى ذَرٍّ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- فِيمَا رَوَى عَنِ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ « يَا عِبَادِى إِنِّى حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِى وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا فَلاَ تَظَالَمُوا». صحيح مسلم (٨/ ١٦)

ژباړه: د ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه د نبي عليه السلام څخه روايت کوي او نبي عليه السلام وايې چې الله تعالی فرمايلي دي: ای زما بندگانو! ما په خپل ځان ظلم کول حرام کړي دي او ستاسو ترمنځ مې هم پر يو او بل ظلم کول حرام گرځولی دی ، نو په خپلو منځو کې يو پر بل ظلم مه کوئ.

غصب، د ټولنيز فساد او د الله تعالی د غضب لامل او ډيره ستره غلا ده .

په يو حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« أَعْظَمُ الْغُلُولِ عِنْدَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ ذِرَاعٌ مِنْ الْأَرْضِ، تَجِدُونَ الرَّجُلَيْنِ جَارَيْنِ فِي الْأَرْضِ أَوْ فِي الدَّارِ فَيَقْتَطِعُ أَحَدُهُمَا مِنْ حَظِّ صَاحِبِهِ ذِرَاعًا فإِذَا اقْتَطَعَهُ طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ»مسند أحمد (٣٧/ ٥٣١)

ژباړه: ابو مالک اشعري رضي الله عنه د نبي عليه السلام څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: تر ټولو ستره غلا د الله تعالی په نزد يو گز دځمکې څخه ده. بيابه مومئ تاسې دوه گاونډيان په ځمکه کې او يا په کور کې چې غصب کوي يو له دوی نه  د خپل ملگري له برخې څخه يو گز، کله چې يې غصب کړي، نو وبه اچول شي (دغه غصب شوې گز) په غاړه دده کې د اوو ځمکو له جملې څخه تر قيامت پورې.

د غصب له امله په ځمکه کې د الله تعالی منارې (علامات) او حدود  له منځه وړل کيږي. د دوه يا زياتو کسانو د ملکيتونو ترمنځ د حدودو علاماتو ته د الله تعالی منارې او حدود ويل کيږي او څوک چې د بل چا ملکيت د خپل ملکيت برخه وگرځوي ؛ نو ده په حقيقت کې الهي حدود زائل او له منځه يوړل او الله تعالی په داسې شخص باندې لعنت وايې څوک چې په ځمکه کې الهي منارې او د ځمکو د حدودو علامات له منځه وړي او هغه زائلوي.

په یوحدیث شریف کې راځي: عن عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ مَا كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يُسِرُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ فَغَضِبَ وَقَالَ مَا كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يُسِرُّ إِلَيَّ شَيْئًا يَكْتُمُهُ النَّاسَ غَيْرَ أَنَّهُ قَدْ حَدَّثَنِى بِكَلِمَاتٍ أَرْبَعٍ. قَالَ فَقَالَ مَا هُنَّ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَالَ قَالَ « لَعَنَ اللَّهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَهُ وَلَعَنَ اللَّهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللَّهِ وَلَعَنَ اللَّهُ مَنْ آوَى مُحْدِثًا وَلَعَنَ اللَّهُ مَنْ غَيَّرَ مَنَارَ الأَرْضِ ». صحيح مسلم (٦/ ٨٤)

ژباړه: د حضرت علی کرم الله وجهه څخه روایت دی ، هغه ته یو کس راغلی او ورته یې وویل: نبي علیه السلام به تاته پټ څه ویل؟ ابو الطفیل راوي وایې چې حضرت علي رضي الله عنه په غضب شو او وه یې ویل: نبي علیه السلام ماته داسې څه پټ نه دي ویلي چې هغه به له خلکو پټول ماسوا د څلورو خبرونه .ابوالطفیل راوي وایې چې هغه سړي وویل: چې هغه څلور خبرې کومې کومې دي ای امیر المؤمنینه؟حضرت علي رضي الله عنه ورته وویل:هغه څلور خبرې دادي چې الله تعالی لعنت وایې په هغه چا چې په خپل پلار لعنت وایې او الله تعالی لعنت وایې په هغه چا باندې څوک چې د غیر الله لپاره حیوان ذبح کوي او الله تعـالی لعنت وایې پر هغه چا چې څوک ځای او پناه ورکړي بدعتي ته(د حضرت علي رضي الله په زمانه کې بدعتیان خوارجو او روافضو ته ویل کیدل.) او الله تعالی لعنت وایې پر هغه چا چې څوک د ځمکې منارې(علامات) او د ځمکې دحدودو علامات بدلوي.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**